


## د رهبرۍ پیغام

**خیرپالو هیوادوالو!** د افغاني سرې میاشتې ټولنه یوه خیریه، ملي او بشرپاله ټولنه ده چې د بشري او ټولنیزو ناخوالو د کمښت په برخه کې د دولت د مرستیال په توګه د سره صلیب او سرې میاشتې د نړیوال غورځنګ د اوه ګونو اصولو په رڼا کې له بیلابیلو لارو خدمتونه وړاندې کوي.

لمړۍ شمیره:۱ | **خبر پاڼه** | د۲۰۲۰ کال د جنوري میاشت

د افغاني سرې میاشتې ټولنه د سره صلیب او سرې میاشتې د نړیوال غورځنګ د اوه ګونو اوصولو په رڼا کې د طبیعي او غیر طبیعي پیښو پیښځپلیو ته د خیرپاله هیوادوالو، سوداګرو او درنو حاجیانو په مرسته په ټول هیواد کې بشرپاله خدمتونه وړاندې کوي.
ملي ټولنه د مرکزي روغتون، ګرځنده او ټاکلو کلینیکونو له لارې د هیواد په لرې پرتو نا امنه سیمو کې د ترټولو اړمنو وګړو لپاره روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي.
په پیښځو مرستونونو کې سلګونه بې مشره کوچنی تر ساتنه او روزنه لاندې لرې او همدارنګه د نړیوال سره صلیب او فیدراسیون په ملاتړ یې د رضاکارۍ او غړیتوب سیستم ته لا پراختیا ورکړې ده.



### پیښو ته د ځواب ورکوونې په برخه کې د ۲۰۲۰ کال د جنوري میاشتې برخمن شوي:

| ولایتونه | د کسانو شمیر | مسرتندویه بنسټونه | مسرته شوي توکي |
|---|---|---|---|
| کابل | ۹۶۸ | د دولت د پیښو اداره او د افغاني سرې میاشتې ټولنه | خوراکي او غیر خوراکي توکي |
| بامیان | ۱۶۴۳ | د چین سور صلیب | خوراکي او غیر خوراکي توکي |
| کاپیسا | ۱۶ | د افغاني سرې میاشتې ټولنه | خوراکي او غیر خوراکي توکي |
| لوګر | ۶ | د افغاني سرې میاشتې ټولنه | خوراکي او غیر خوراکي توکي |
| وردګ | ۴۲۹۱ | د سره صلیب کمیته او اندونیزیا | خوراکي او غیر خوراکي توکي |
| پکتیکا | ۳۶ | د افغاني سرې میاشتې ټولنه | خوراکي او غیر خوراکي توکي |
| کنرها | ۵۵۶۹ | د چین سور صلیب | خوراکي او غیر خوراکي توکي |
| بغلان | ۱۷۷۶ | د افغاني سرې میاشتې ټولنه | خوراکي او غیر خوراکي توکي |
| بادغیس | ۱۷۵۰ | د اپیل پروژه | خوراکي او غیر خوراکي توکي |
| قندهار | ۲۳۱ | د سره صلیب کمیته | غیر خوراکي توکي |
| هلمند | ۲۹۵۰ | د سره صلیب کمیته او د افغاني سرې میاشتې ټولنه | خوراکي او غیر خوراکي توکي |
| زابل | ۲۵۵ | د افغاني سرې میاشتې ټولنه | غیر خوراکي توکي |
| **ټولټال** | **۱۹۸۴۰تنه** | **کورنۍ** | **۳۴۳۴** |

### د جسدونو د لیږد پروګرام:

د ۲۰۲۰ کال په جنوري میاشت کې ۸۷ جسدونه لیږدول شوي دي

### د پلټنې او لارموندنې پروګرام:

د بندیانو او هغوی د کورنیو ترمنځ د پیغامونو تبادله: د ۲۰۲۰ کال په جنوری میاشت کې (۴۳) پیغامونه ویشل شوي او (۳۷) پیغامونه راټول شوي دي.

## ځوانان او رضاکاران

په خوست او ننگرهار ولايتونو کې د ښاروالیو سره د مرستې په موخه د نیالگیو کینول، په نیمروز کې د انگلیسیي او کمپیوټر له کورسونو څخه د ۱۸ تنو رضاکارانو فراغت، د هیواد په کچه د ۳۸۰ نویو غړیو جذب او د ایران له والیبال ټیم سره د ملي ټیم په ترکیب کې لوبه.

## مرستونونه

د افغاني سرې میاشتې ټولنه په پینځه ګونو مرستونونو (کابل، قندهار، هرات، بلخ او ننگرها) کې ۷۱۹ تنه رواني ناروغان، کونډې او یتمان تر پالنه او روزنه لاندې لري.

## د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول

د افغاني سرې میاشتې ټولنې روغتیایي خدمتونه ددې لپاره د اهمیت وړ دي چې په کلیو او بانډو کې د لیرې پرتو سیمو خلک تر خپل پوښښ لاندې راولي، له دې امله په لیرې پرتو سیمو کې د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول، خلکو ته ستر حیاتي ارزښت لري

| | |
|---|---|
| له ۴۶ ثابتو کلینیکونو څخه | ۱۲۲۵۳۸ کسان: برخمن شوي |
| له ۳۴ ګرځنده کلینیکونو څخه | ۳۱۶۵۶ کسان: برخمن شوي |
| د روغتیایي پوهاوي پروګرام څخه | ۵۸۰۰۱ کسان: برخمن شوي |
| د زړه سوري د درملنې پروګرام څخه | ۱۸۴ کسان: برخمن شوي |
| د لمړنیو مرستو پروګرام څخه | ۱۶۴۴۰ کسان : برخمن شوي |
| د اچ آی وي پروژه | ۱۲۱۲ کسان: برخمن شوي او ۱۱۰۰۰ میلي لیتره وینه راټوله شوې ده |
| له ۲۱ فرعی کلینیکونو څخه | ۵۴۱۳۶ کسان:برخمن شوي |
| د پولیو له پروګرام څخه | ۶۹۶۱ کسان: برخمن شوي |
| له مرکزي روغتون څخه | ۱۰۲۶۸ کسان: برخمن شوي |
| **ټولټال** | **۲۹۱۳۶۰ کسان** |



